


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



د مجیب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : ۱۵ جون ۲۰۱۳ میلادی

# ګیلی !!!

ګــــوره مست تــــا خپل د زلفو په ادا کړم
بیا دی ځیری ګریوان خوشی په صحراکړم
ستا د مینی انتها نه خبر نه وم
نابیره تا ډالــــی د اژدها کړم
هلی ځــــــلی د وصال ما ډیری وکړی
لکه ړوند تا خوشی بی له کوم عصا کړم
د آخرت سوال او ځواب ته نور تیار دی
سوال ځواب ته تا تیار پدی دنیــــا کړم
ددنیا په عیش او نوش کی دی خلک غرق
یار زه لیری له دنیا او له عقبـــــا کړم
زه مجیب خو ستا جفا نه لیونی شوم
تا نو ولــی ملامت اوس په جفا کړم

*****

مجیب الرحمن « خطیبي »
۲۴،۳،۱۳۹۲ خیر خانه مینه ـ کابل

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org